# تیموتاوس ته د پولوس رسول دوهم لیک

د کتاب پېژندنه

دا لیک پولوس رسول هغه وخت لیکلی دی چې هغه په زندان کې ؤ. پولوس د مسیح د زېري د موعظه کولو په جرم زنداني شوی ؤ. هغه پوهېده چې د هغه ژوند به په دې دنیا کې زر ختم شي. هغه دا لیک د نصیحت او وصیت په توګه خپل همکار او ځوان مرستیال تیموتاوس ته لیکي.

پولوس په دې لیک کې تیموتاوس ته نصیحت کوي چې د عیسی مسیح د وفادار شاګرد په توګه د هغه زېري او د خدای د کلام رښتیني تعلیم ته وفادار پاتې شي. هغه باید د سختیو او ستونزو سره سره خپلې وظیفې د ښوونکي او زېري رسوونکي په توګه سرته ورسوي. همدارنګه پولوس تیموتاوس ته په کلکه خبرداری ورکوي چې د کم‌عقلتوب او د جهالت په بحثونو کې ګډون ونه کړي، ځکه چې د هغو پای شخړه ده. پولوس په دې هکله خپل ځان هغه ته د یو مثال په توګه ورښایي چې څنګه د ستونزو په وړاندې ټینګ ودرېږي او هېڅکله د حقیقت نه ونه ګرځي.

په دې لیک کې اصلي خبره دا ده چې ستونزې او کړاوونه د ایماندار د ژوند یوه برخه ده، خو کله چې مونږ د داسې ستونزو سره مخ کېږو، نو د ایمان، خدای او زېري په قوت سره مونږ هغه زغملی شو.

## موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱-۲



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شکرګزاري او هڅونه: ۱:۳ - ۲:۱۳

مشوره او خبرداری: ۲:۱۴ - ۴:۵

د پولوس رسول حالت: ۴:۶-۱۸

وروستنی خبرې: ۴:۱۹-۲۲



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ (١) دا لیک د پولوس له خوا دی چې د خدای په ارادې د عیسی مسیح رسول دی او د دې
دپاره لیږل شوی دی ترڅو هغه وعده شوی ژوند چې په عیسی مسیح کې ترلاسه کیږي، اعلان کړي.
(٢) زه دا لیک خپل ګران زوی تیموتاوس ته لیکم. د پلار خدای او زمونږ د څښتن عیسی مسیح
فضل، رحم او سلامتي دې وي په تا باندې.

## شکرګزاري او هڅونه

(٣) زه د هغه خدای شکر کوم چې خدمت یې کوم، لکه څنګه چې زما نیکونو په پاک وجدان سره
د هغه خدمت کاوه. زه هر وخت شپه او ورځ تا په خپلو دعاګانو کې یادوم. (٤) کله چې ستا
اوښکې را په یاد شي، نو دا ارمان لرم چې تا ووینم، ترڅو ستا په لیدلو زما خوشحالي پوره شي.
(٥) زه ستا هغه سوچه ایمان رایادوم چې لومړی ستا نیا لوییس او ستا مور افنیکې درلود او زه ډاډه
یم چې ته یې هم لرې. (٦) له دې امله تاته در په یادوم چې د خدای هغه نعمت چې زما د لاس په
ایښودلو سره تاته درکړل شو، هغه د ځان سره ژوندی وساته. (٧) ځکه کوم روح چې خدای مونږ
ته راکړی دی هغه د وېرې او شرم روح نه دی بلکې د قدرت، مینې او په ځان باندې د واک لرلو
روح دی.

(٨) نو بیا زمونږ د څښتن په هکله د شاهدۍ ورکولو یا زما په اړه چې د هغه په خاطر بندي یم مه
شرمیږه، بلکې د خدای په قدرت سره په هغو کړاوونو کې زما سره شریک شه چې د زیري په رسولو
کې رامنځته کیږي. (٩) خدای مونږ ته خلاصون راکړ او مونږ یې یو سپیڅلي ژوند ته راوبللو. دا
زمونږ د عملونو له امله نه وو بلکې دا د خدای مقصد او فضل ؤ چې د ازل نه یې د عیسی مسیح په
وسیله مونږ ته راکړ. (١٠) خو اوس هغه دا فضل زمونږ د خلاصوونکي عیسی مسیح په راتللو سره
مونږ ته ښکاره کړی دی. هغه د مرګ قدرت له منځه یووړ او د زیري په وسیله یې نه‌فناکېدونکی
ژوند ښکاره کړ.

(١١) زه د دې زیري رسولو دپاره وعظ کوونکی، رسول او استاذ وټاکل شوم. (١٢) له همدې امله زه
کړاوونه زغمم، خو په هغه باندې نه شرمیږم. خو په چا باندې چې ما ایمان راوړی دی زه هغه پېژنم،
ځکه زه یقین لرم چې هغه دا توان لري هغه څه چې هغه راته سپارلي دي، د خپل بیرته راتګ تر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځې پورې يې وساتي. ⑬ هغه سم تعليم چې زما نه مو اورېدلی دی، هغه د هغه ايمان او مينې
په وسيله چې په عيسی مسيح کې يې لرې، د خپل ځان دپاره مثال وګرځوه. ⑭ هغه ښه امانت
چې تاته سپارل شوی دی هغه د روح القدس په وسيله چې په مونږ کې اوسيږي، وساته.

⑮ ته خبر يې چې د اسيا د ولايت ټولو خلکو زه پرېښودم چې په هغو کې فيجلس او
هيرموجينس هم شامل دي. ⑯ څښتن دې د اونيسيفوروس په کورنۍ باندې رحم وکړي، ځکه
چې هغه ماته څو څو ځلې نوی قوت راکړ او په دې ونه شرمېده چې زه بندي يم، ⑰ بلکې کله
چې هغه روم ته راورسېده، نو زه يې ډېر ولټولم او پيدا يې کړم. ⑱ څښتن دې د قضاوت په ورځ
په هغه باندې خپل رحم وکړي. همدارنګه ته ښه خبر يې چې هغه په افسيس کې زما څومره
خدمتونه کړي دي.

## د عيسی مسيح وفادار عسکر

**۲** ① نو ای زما زويه، په هغه فضل سره چې په عيسی مسيح کې دی، قوي اوسه. ② کومې
خبرې چې تا د ډېرو شاهدانو په مخکې زما څخه اورېدلې دي، هغه داسې وفادارو کسانو ته وسپاره
چې نورو ته د تعليم ورکولو وړ وي. ③ لکه د عيسی مسيح د يو ښه عسکر په شان زما سره په
کړاوونو کې شريک شه. ④ هيڅ عسکر خپل ځان په ورځني شخصي کارونو کې نه راګېروي،
ځکه چې د هغه مقصد د خپل قوماندان خوشحاله ساتل دي. ⑤ همدارنګه هيڅ لوبغاړی نه شي
کولای چې د لوبو په سيالۍ کې جايزه ترلاسه کړي، ترڅو د هغې لوبې قوانين مراعات نه کړي. ⑥
کوم بزګر چې زحمت يې ويستلی وي، هغه بايد لومړنی کس وي چې د خپلو حاصلاتو برخه واخلي.
⑦ څه چې زه درته وايم د هغو په هکله فکر وکړه، نو بيا به څښتن درته پوهه درکړي چې په ټولو
شيانو باندې پوه شې.

⑧ ياد ساته عيسی مسيح چې د داود د نسل څخه دی او د مرګ نه بېرته راژوندی شوی دی. دا
هغه زېری دی چې زه يې رسوم ⑨ او د همدې زېري له امله دی چې زه کړاوونه وينم، تر دې
چې د يو مجرم په شان په زنځيرونو تړل شوی يم. خو د خدای کلام په زنځير تړل کېدای نه شي.
⑩ نو زه دا هرڅه د خدای د غوره شويو په خاطر زغمم، ترڅو هغوی هم هغه خلاصون او تلپاتې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جلال چې په عیسی مسیح کې دی، ترلاسه کړي. ⑪ دا خبرې ربښتیا دي:

که مونږ مړه شوي يو د هغه سره

نو د هغه سره به ژوند هم کوو

⑫ که چېرې مونږ ولړو صبر او زغم

نو د هغه سره به کړو پاچاهي هم

که د هغه نه مونږه وکړو انکار

نو هغه به هم زمونږ نه وکړي انکار

⑬ که چېرې مونږ شو بې‌وفا

نو هغه به وفادار پاتې شي

ځکه نه شي کولای هغه

چې انکار وکړي له خپله ځانه څخه

## د خدای د خوښې خدمتګار

⑭ دا شیان خلکو ته ور په یاد کړه او د خدای په حضور کې ورته حکم وکړه چې د لغتونو په سر
شخړه ونه کړي، ځکه چې دا هیڅ ګټه نه لري، بلکې اورېدونکو ته زیات زیان رسوي. ⑮ ډېر
کوښښ وکړه ترڅو خپل ځان د خدای په نظر کې داسې وښایې چې هغه دې خوښ کړي، لکه د یو
مزدور په شان چې په خپل کار نه شرمیږي او په سمه توګه د حقیقت د پیغام تعلیم ورکوي. ⑯
خو د بې‌دینه او بېځایه خبرو نه ځان وساته، ځکه چې دا خلک نور هم د خدای نه لېرې ساتي. ⑰



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د هغوی خبرې لکه د ناسور زخم په شان دي چې ټول بدن ته خپرېږي چې په دې ډله کې هیمناوس او فیلیتس شامل دي چې داسې خبرې کوي. ⑱ دغو کسانو چې د حقیقت لاره پرېښې ده، وایي چې د بیا راژوندي کېدلو ورځ لا پخوا رارسېدلې ده او په دې ډول هغوی ځینې خلک د خپل ایمان څخه اړوي. ⑲ خو خدای چې کوم بنیاد ایښی دی، هغه ټینګ دی او په هغه باندې داسې لیکل شوي دي: «څښتن خپل خلک پېژني» او «څوک چې د هغه نوم په خوله یادوي، باید د بدی نه لاس واخلي.»

⑳ په یو لوی کور کې یوازې د سرو زرو او سپینو زرو لوښي نه وي بلکې د لرګیو او خاورین لوښي هم وي. د هغو څخه ځینې یې د ځانګړو کارونو دپاره او ځینې یې د عادي کارونو دپاره وي. ㉑ نو له دې امله که چېرې څوک خپل ځان د بدیو نه پاک کړي، نو هغه به داسې لوښی شي چې د ځانګړو کارونو دپاره به ورڅخه کار اخیستل کیږي، ځکه چې هغه وقف شوی دی او د خپل بادار دپاره ګټور دی او هر ډول نېک کار ته تیار دی.

㉒ نو د ځوانۍ د وخت د نفساني غوښتنو څخه ځان وساته او د هغو کسانو سره چې په پاک زړه څښتن ته دعا کوي، د عدالت، ایمان، مینې او سلامتۍ دپاره هلې ځلې کوه. ㉓ خو د کمعقلتوب او جهالت بحثونو نه ځان لېرې ساته، ځکه چې ته پوهېږې چې د هغو پای شخړه ده. ㉔ د څښتن خدمتګار باید جګړه‌مار نه وي بلکې په ټولو باندې مهربانه وي، ښه ښوونکی وي او زیات صبر او زغم ولري. ㉕ په نرمۍ سره دې خپل مخالفین اصلاح کړي. کېدای شي چې خدای هغوی ته موقعه ورکړي چې توبه وباسي، ترڅو حقیقت وپېژني. ㉖ بیا کېدای شي چې د هغوی سره عقل پیدا شي او د شیطان د دام نه چې په کې راګیر شوي دي او مجبوره کړي یې دي چې د هغه اراده پوره کړي، خلاص شي.

## د اخرو ورځو بې‌ایماني

٣ ① خو په دې پوه شه چې په اخرو ورځو کې به د سختیو وختونه راشي. ② ځکه خلک به ځان خوښوونکي، پیسه دوسته، لافې وهونکي، مغرور، سپین سترګي، د مور او پلار نافرمانه، ناشکره،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ناپاکه، ۳ بې‌رحمه، سخت زړه لرونکي، غیبت کوونکي، خپل سري، وحشي، د نېکی دښمنان، ۴ خاین، بې‌پروا، مغرور او د خدای د پېژندلو نه زیات د عیاشی خوښوونکي وي. ۵ هغوی به په ښکاره ځانونه دینداره ښایي، خو د خدای د قدرت نه به منکر وي. د داسې خلکو څخه ځان ساته. ۶ په دوی کې داسې خلک شته چې کورونو ته ورننوځي او هغه کم‌عقلې او ساده ښځې د خپلې اغیزې لاندې راولي چې په ګناهونو کې ډوبې وي او د هر ډول نفساني غوښتنو تر اغیزې لاندې راغلې دي. ۷ دا ښځې تل غواړي چې کوم څه زده کړي، خو هېڅکله نه شي کولای چې د حقیقت پېژندنې ته ورسېږي. ۸ لکه څنګه چې ینیس او یمبریس د موسی سره مخالفت کړی ؤ، نو دا خلک هم د حقیقت سره مخالفت کوي. د هغوی خیالونه فاسد او ایمان یې رښتینی نه دی. ۹ خو هغوی به ډېر پرمختګ ونه کړي، ځکه چې د هغوی کم‌عقلتوب به ټولو ته ښکاره شي، لکه څنګه چې د ینیس او یمبریس کم‌عقلتوب ښکاره شو.

## وروستنی لارښوونه

۱۰ خو ته زما د تعلیم او دا چې زه څنګه ژوند تېروم او په ژوند کې زما د مقصد او زما د ایمان، زما د صبر، زما د مینې او زما د زغم نه خبر یې. ۱۱ همدارنګه ته خبر یې چې د پیسیدیې په انطاکیې، قونیې او لسترې ښارونو کې زه د کومو ځورونو او کړاوونو سره مخ شوم او هغه ځورونې مې وزغملې، خو بیاهم څښتن زه د هغو ټولو نه خلاص کړم. ۱۲ په حقیقت کې هرڅوک چې غواړي په عیسی مسیح کې په دینداری سره ژوند وکړي، نو هغوی به ځورول کیږي. ۱۳ خو بد او چلبازه خلک به نور هم له بدو نه ډېر بد شي. هغوی به نور خلک غولوي او هم به په خپله غولیږي. ۱۴ خو څه چې تا زده کړي دي او په هغو باندې ټینګ باور لرې، نو هغو ته وفادار پاتې شه. ځکه ته پوهېږې چې هغه شیان دې د چا نه زده کړي دي ۱۵ او څنګه ته د ماشومتوب نه د خدای د کلام سره اشنایي لرې چې تاته حکمت درکړي، ترڅو په عیسی مسیح باندې په ایمان راوړلو سره خلاصون ومومې. ۱۶ د کلام ټولې لیکنې د خدای له خوا الهام اخلې او د تعلیم ورکولو، د غلطیو د رټنې، اصلاح او د رښتیني ژوند په خاطر د روزنې دپاره ګټورې دي، ۱۷ ترڅو د خدای خلک پوره وړتیا ولري او د هر نېک کار دپاره تیار اوسي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ﴿۱﴾ زه د خدای او عیسی مسیح په حضور کې چې د ژوندیو او مړو په هکله به قضاوت کوي
او هغه به ښکاره شي او خپله پاچاهي به جوړه کړي، تاته حکم کوم ﴿۲﴾ چې د خدای د کلام وعظ
کوه او که ستا دپاره وخت مناسب وي او که نه، تیار اوسه. ته باید خلکو ته د هغوی غلطی ور په
ګوته کړې او هغوی ورټې او ویې هڅوې او په ډېر صبر او حوصلې سره هغوی ته تعلیم ورکوه. ﴿۳﴾
ځکه چې داسې وخت راتلونکی دی چې خلک به سم تعلیم ته غوږ نه نیسي، بلکې د خپلو نفساني
غوښتنو پسې به ګرځي او داسې استاذان به راټول کړي چې هغه څه ترې واوري چې د دوی
خوښیږي. ﴿۴﴾ هغوی به حقیقت اورېدل پرېږدي او په نکلونو پسې به ګرځي. ﴿۵﴾ خو ته باید په
هر حال کې هوښیار اوسې، کړاوونه وزغمې، د زېرې رسوونکي کار وکړې او د خدای د خدمتګار په
توګه خپله وظیفه سرته ورسوې.

﴿۶﴾ خو زما وینه لا د مخکې نه د قربانۍ په خاطر تویه شوې ده او هغه وخت رارسېدلی دی چې
باید د دې دنیا نه لاړ شم. ﴿۷﴾ ما ښه جنګ وکړ او سیالي مې پای ته ورسوله او وفادار پاتې شوم.
﴿۸﴾ نو اوس د عدالت تاج ماته په انتظار دی، هغه تاج چې څښتن یعنې هغه عادل قاضي به یې د
قضاوت په ورځ ماته راکوي او یوازې ماته نه، بلکې هغو ټولو ته به یې هم ورکړي چې په ډېره مینه
د هغه راتللو ته سترګې په لاره دي.

## د تیموتاوس نه د پولوس شخصي غوښتنې

﴿۹﴾ ډېر کوښښ وکړه چې زر ماته راشې، ﴿۱۰﴾ ځکه چې دیماس له دې امله چې د دې دنیا سره
یې مینه لرله، زه پرېښودم او تسالونیکیې ته لاړ. کریسکیس ګلاتیې ته او تیتوس دلماتیې ته تللی
دی. ﴿۱۱﴾ یوازې لوقا زما سره دی. مرقوس راپیدا کړه او د ځان سره یې راوله، ځکه چې هغه زما
سره په خدمت کې ګټور دی. ﴿۱۲﴾ تیخیکاس ما افسیس ته لېږلی دی. ﴿۱۳﴾ کله چې ته راځې، نو
زما هغه چپنه چې دترواس په ښار کې مې کرپوس ته پرېښې وه او زما کتابونه او په ځانګړې توګه
هغه په پوستکي باندې لیکل شوې نسخې هم د ځان سره راوړه. ﴿۱۴﴾ سکندر مسګر ماته لوی زیان
رسولی دی. خو څښتن به هغه ته د خپلو کارونو سره سم سزا ورکړي. ﴿۱۵﴾ ته هم د هغه نه ځان
ساته، ځکه چې هغه زمونږ د پیغام سره ډېر مخالف دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ په لومړنی محکمه کې هېڅوک زما په څنګ کې ونه درېد، بلکې ټولو زه پرېښودم. خدای دې
هغوی په دې ګناه نه نیسي. ١٧ خو څښتن زما سره ودرېده او ماته يې قوت راکړ چې ما وکولای
شول چې د ټول پیغام په اړه وعظ وکړم چې ټول غیریهودیان يې واوري. نو زه د زمري د خولې نه
خلاص شوم. ١٨ څښتن به ما د هر بد کار څخه وساتي او خپلې اسماني پاچاهی ته به مې خوندي
ورسوي. د هغه جلال دې تل ترتله وي. امین.

## وروستني سلامونه

١٩ پریسکیلا، اکیلا او د اونیسیفوروس کورنی ته زما سلامونه ووایه. ٢٠ اراستوس په قرنتوس
کې پاتې شو او تروفیموس مې په میلیتوس کې پرېښود، ځکه چې هغه ناروغه ؤ. ٢١ ډېر کوښښ
وکړه چې د ژمي نه مخکې راشې. یوبولوس، پودینس، لینوس، کلادیه خور او ټول خویندې او وروڼه
درته سلام وايي. ٢٢ څښتن دې ستا سره مل وي. په تاسو ټولو دې د خدای فضل وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ٢٠٢٣
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.